مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد



عبدالغفور لېوال


۲۰۲۳/۰۱/۳۱

# شپېبه

کړی کړی تصویر دې په اوبو کې لړزېده
انار انار خواږه دې په راتلو کې لړزېده

زه تږی وم بدن دې سمندر و د شرابو
ست ست و په نڅا او په څپو کې لړزېده

ما وځبنه د خوږو شونډو د سرو ګلابو عکس
انګار و د سکروټو په پیالو کې لړزېده

سندرې وې د اور، د شپې پاولي وو په اتڼ
غمي د غوږوالیو دې لمبو کې لړزېده

ګریوان ته دې د سرې رڼا ګډا وربهیده
یاقوت د انګبینو په شیدو کې لړزېده

مړوند مړوند شرنګی و زولنې یې لړزولی
دا لاس چې ستا د زلفو په حلقو کې لړزېده

لبریز د میّو جام و، تا ته څاڅکی شو د اوښکې
لېوال په مستۍ راغی، خو په تلو کې لړزېده





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ